# لوګر پوهنتون
## علمي او محصلانو چارو معاونیت
## ښوونې او روزنې پوهنځی
## کیمیا څانګه



## د کیمیا څانګې مخینه

د کیمیا – بیولوژي څانګه لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له ایجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې د وړاندیز او د ۱۳/۱۲/۱۳۹۳ ل کال سره سم او د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۰۰) ګڼې حکم د ۲۰/۲/۱۳۹۲ نېټې سره ایجاد او په فعالیت پیل وکړ.

لوګر پوهنتون د (۱۶۵) ګڼې وړاندیز او د ۲۵/۳/۱۳۹۴ نېټې سره سم د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او اکاډمیکو چارو له ریاست څخه د یادو څانګو د بېل والي غوښتنه وکړه، چې له نېکه مرغه بیا د (۱۱۴) ګڼې حکم پر بنسټ د ۹/۴/۱۳۹۴ نېټې سره سم د تقنین او پراختیایي آمریت له لوري د علمي بورډ د ۸/۴/۱۳۹۴ نېټې د پرېکړې پر بنسټ د کیمیا څانګه د نورو څانګو په څېر مستقله او د دوو علمي کادر غړو په درلودو سره یې په فعالیت پیل وکړ.



د کیمیا څانګه په اوس وخت کې شپږ تنه علمي کادر غړي لري چې له دې جملې څخه یې درې تنه د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې دي.

## د کیمیا څانګې د آمر پیغام

ساینس او ټکنالوژي د بشري پرمختګ اساسي عوامل دي، چې کیمیا پکې ځانګړی اهمیت لري. زموږ هېواد د دې علم اړتیا لري ترڅو صنعت، درمل جوړونه او انرژي کې پرمختګ وکړي. د کیمیا دیپارټمنټ ژمن دی چې متخصص کادرونه وروزي، نوښت ته وده ورکړي او د هېواد پرمختګ ته ګټور ګامونه پورته کړي.

**نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطاني**
**د کیمیا څانګې آمر**

## د کیمیا څانګې لرلید

د ښوونې او روزنې پوهنځي کیمیا څانګه هڅه کوي چې د ټولنې او کار بازار علمي او صنعتي اړتیاوو پر بنسټ د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کې د هیواد په کچه یو ځانګړی مقام تراسه کړي.

## د کیمیا څانګې رسالت

د ښوونې او روزنې پوهنځي کیمیا څانګه په لازمو مهارتونو، معاصرو درسي میتودونو او ښوونیزې ټکنالوژۍ په اسلامي او ملي روحیه سمبال د ټولنې او کار بازار د علمي او صنعتي اړتیاوو مطابق د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزل خپل ماموریت ګڼي.

## د کیمیا څانګې ارزښتونه

1. د اسلامي او ملي ارزښتونو درناوی.
2. د فرامینو، رهبري شورې پرېکړو، احکامو، قوانینو او مقرراتو درناوی.



3. دیانت او تقوا.
4. عدالت، تعهد او صداقت.
5. روڼتیا او حساب‌ورکونه.
6. اخلاقي اصولو رعایت
7. د انساني کرامت درناوی.
8. د مسؤلیت احساس
9. ابتکار او نوښتګري.
10. ښې علمي نظام دارۍ ته پاملرنه
11. سالم علمي رقابت.
12. کاري مصئونیت.
13. ګډون او همکاري.
14. د فساد او تعصب پر ضد مبارزه.

## د کیمیا څانګې تشکیل

د کیمیا څانګې تشکیل په لاندې ډول دی:

1. نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطاني - آمر
2. پوهندوی محمد جاوید ستانکزی – کادري غړی
3. پوهنیار صفي الله نوابي – کادري غړی
4. پوهنیار عزیز محمد کاکړ – کادري غړی
5. نوماند پوهنیار سردار ولی ثاقب – کادري غړی
6. نوماند پوهنیار شیر محمد حریفال – کادري غړی

## د کیمیا څانګې لابراتوار

د کیمیا څانګه ښوونیز لابراتوار لري چې اوس مهال د شاوخوا **۱۸۶ قلمه لابراتواري موادو او وسایلو** په کارولو سره محصلانو ته د عملي درسونو د ترسره کولو زمینه برابروي. سربېره پر دې، **۱۰۷ قلمه نوي مواد او وسایل** هم پیرودل شوي چې د سپارلو د چارو له بشپړېدو وروسته به لابراتوار ته اضافه شي. د ځینو موادو د محدودیت له امله، د علمي کادر غړي له

شته امکاناتو څخه په اغېزمنه توګه ګټه اخلي او د اړتیا پر مهال د لابراتواري تجربو اړوند ښوونیزې ویډیوګانې او نورې تکمیلي لارې کاروي، ترڅو د محصلانو د عملي زده‌کړې بهیر پیاوړی او د شته امکاناتو په کچه د علمي پروګرام عملي برخه په ښه توګه تطبیق شي.



### د کیمیا څانګې کتاب خونه

د کیمیا د لیسانس علمي پروګرام د څانګې، پوهنځي او پوهنتون له کتابتونونو څخه ګټه اخلي او محصلان او د علمي کادر غړي اړین علمي سرچینو ته لاسرسی لري. د پوهنتون په عمومي کتابتون کې **۱۲۶۳ جلده** او د پوهنځي په کتابتون کې **۵۰۸ جلده** د کیمیا او اړوندو علومو کتابونه موجود او د استفادې وړ دي. سربېره پر دې، د ښوونیزو سرچینو د پیاوړتیا لپاره **۹۹ جلده درسي کتابونه** د څانګې په کتابتون کې چمتو شوي چې له دې ډلې **۴۵ جلده نوي تخصصي کتابونه** دي او د علمي کادر غړو او محصلانو په واک کې ورکړل شوي دي. دغه علمي سرچینې د ښوونیزو او څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري.





### د کیمیا څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه

- علمي کادرونو په توګه
- ښوونکو په توګه
- د اتومي انرژۍ اداري اړوند برخو کې
- څېړنیزو ادارو کې د څېړونکي په توګه
- تولیدي فابریکو کې د کیفیت کنټرولوونکي په توګه لکه د پلاستیکي توکو، پایپونو، پاکوونکو موادو، رنګونو، کاغذونو، توکرو، کېمیاوي سرو، د ژوند لپاره تسهیلي توکو، مصنوعي سون توکو او داسې نورو کې
- د کانونو او پټرولیم وزارت مربوطه لابراتوارونو کې
- د اوبو او انرژۍ وزارت مربوطه لابراتوارونو کې
- دفاع او داخلې وزارتونو کې د چاودېدونکو توکو کنټرول برخه کې
- کرنې وزارت مربوطه لابراتورونو کې
- د ګمرکاتو مربوطه لابراتوارونو کې
- د چاپېریال ساتنې ملي اداري مربوطه برخو کې
- د خوړو او درملو اداره کې مربوطه برخو کې
- د الکترونیکي صنایعو او نانو ټکنالوژۍ اړوند برخو کې
- د وداني‌زو توکو کیفیت برخه کې

### د تدریس فزیکي اسانتیاوې

د کیمیا څانګه د علمي پروګرام د تطبیق لپاره **شلور مناسب درسي ټولګي** لري چې هر یو یې د **۳۰ تر ۴۵ محصلانو** ظرفیت لري. ټولګي په مېز او څوکۍ، سپین‌بورډ، LCDټلویزیون، د استاد مېز، مناسبې رڼا، برېښنا او د وای‌فای او فایبر نورې شبکې له لارې انټرنېټ ته لاسرسی لري. همدارنګه، د مناسب ښوونیز چاپېریال د رامنځته کولو لپاره پردې او د څښاک اوبه هم برابرې شوې دي.



### د برېښنايي زده‌کړو سیستم او اسانتیاوې

د کیمیا څانګې د برېښنايي زده‌کړو د پراختیا لپاره د لومړي ځل لپاره په ټولو درسي ټولګیو کې د **QR Code**پر بنسټ ډیجیټلي لاسرسی رامنځته کړی دی. هر ټولګی ځانګړی QR Code لري چې محصلان یې په سکېن کولو سره د Google Drive اړوندې ښوونیزې پاڼې ته داخلېږي او د هر سمستر د مضامینو **کورس پالیسي، درسي سرچینې، سلایدونه، PDF فایلونه او ښوونیزې ویډیوګانې** په منظم ډول ترلاسه کولای شي. دغه نوښت د زده‌کړیزو سرچینو ته چټک او اسانه لاسرسی، خپلواکه زده‌کړه او د برېښنايي زده‌کړو پیاوړتیا تضمینوي.

### د تدریس وختونه

پسرلني سمستر کې د سهار له ۰۸:۰۰ بجو څخه تر ۱۲:۰۰ بجو پورې.

خزاني سمستر کې د سهار له ۰۸:۳۰ بجو څخه تر ۱۲:۳۰ بجو پورې.

### اړیکي


chem.edu.logar.uni@gmail.com

Department of Chemistry دیپارټمنټ کیمیا

Chemistry dep. Logar University

t.me/chemdeplogar